مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۴/۰۱/۱۴

د لنډیو پر ټټر باندې د کډوالۍ انځور

۴۰مه برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۲۶۰مه برخه

زه اوس هغه پخوانی نه یم
زما زور ـ زر، ټول پنجابي لوټلي دینه

نه مو دا خپل وطن روزي شو
نه مو پردي مُلک کي ارام ته څوک پرېږدینه

ټول دې په اور کې لولپه شي
د ایران ظلم پرموږ اور ولګاونه

په داسې جنګ خو دې اور بل شي
توره به زه کړم، عیش به نور خلک کوینه

د لنډیو په دې برخه کې مې دا لاندې لنډۍ برابرې کړي دي او تاسو درنو لوستونکو ته یې وړاندې کوم:

ته پرې د کانو باران وکړې
چې د تهران غرور نور درېوړې شینه

باران د کانو به پرې اوري
ایران زموږ وطن ته سپک کتلي دینه

خلک وطن ته خپل هرڅه وړي
زما یې چور کړل، زه جامو سره ورځمه

زه اوس هغه پخوانی نه یم
زما زور ـ زر، ټول پنجابي لوټلي دینه

رنګ مې هغه شپېه راتور شو
چې پنجابي ټولو ته وې، موږ مو شړونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نه مو دا خپل وطن روزي شو
نه مو پردي مُلک کي ارام ته څوک پرېږدينه

شپهورځ مور ـ پلار سترګې پرلاري
ژړي د بـل چـا مـزدوران دي، رابشـينـه

موږه اختر نه لرو ياره
نه خپلوطن او نه پردي کې ځای لرونه

هرچېرې ځم، ووزه غږ اورم
زه د وطن په تمه ګرځم، مړ به شمه

جلاوطن کي عمر تېر شو
تللي عمرونه کله بېرته نه راځينه

پر ما به هغه ورځ اختر وي
سوله وي ټينګه، وطنوال بېرته راځينه

د دسايسو وستاکاره
د تباهی بار به دا ستا په غاړه وينه

زموږه بخت به کوټه نه وي
کوټه مغزو سره هرڅوک ټکرې خورينه

ايران د زړه په رنځ اخته کړې
چې نور روان وي تنها دوی ټکرې خورينه

بېاوره وسوځې ستي شې
پنجابه زرځلي دې موږ سبځليېونه

ټول دې په اور کې لولپه شي
د ايـران ظلـم پـرمـوږ اور ولګاونـه

پردي وطن کې بيا رنځور شوم
پردي وطن کې به مې څوک دوا کوينه

پردي په هېڅ نه رضا کېږي
نه په خوارئ ـ مزدورئ او نه رشوتونه

په داسي جنګ خو دې اور بل شي
توره به زه کړم، عيش به نور خلک کوينه

د مسافرو لويه خدايه
چې دا شرل وي، موږ به کوم پلو ته ځونه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ